**د پاکستان حکومت اقتصاد زیانمن کړ، پر وارداتو یې متکي او د فقر کچه یې زیاته کړه**




د ۲۰۱۸م د مارچ پر ۵ مه، د نړیوال وجهي صندوق اجرایوي بورډ له پاکستان سره د پروګرام ارزونې وروستی بحث پای ته ورسوه. دغه ښکېلاکګر مالي بنسټ وايي: «د لوړ مالياتي نظام ترڅنګ، د وارداتو زیاتوالی د بودیجې د کسر لامل شوی او په نړیواله سپما کې یې د پام وړ کمښت رامنځته کړی». دغه راز یاد بنسټ یادونه کړې: « زیات واردات د چین-پاکستان اقتصادي دهلیز په پروژو پورې تړلي دي». یاد راپور لیکي، چې په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې په پاکستان کې خالص کورنی تولید سړي سر عاید ۱۴۶۳ ډالره و، په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې دفقر کچه ۲۹/۵سلنه، د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ د وزګارتیا کچه ۵/۹ سلنه وه.

د پاکستان ډېری واردات نساجي (اوبدل شوي توکي) او پروسس کېدونکي غذایي توکي دي او صادرات یې کرهنیز توکي او سپک صنعتي تولیدات دي. له کورنیو ماشینونو، درنو صنعتي ماشینونو او د ساختماني موادو له تولیداتو څخه د پاکستان څرګنده کمزوري په ګوته کېږي. په ۲۰۰۷م کې اته قلمو پاکستاني صاداراتو ۱۸ میلیارده ډالره جوړول، چې د صنعت په ډګر کې یې زیاتره نساجي توکي او په کرهنیز ډګر کې یې پنبه وه. د ۲۰۱۸م د جنوري پر ۱۱مه د پاکستان د احصایې ادارې د راپور پر بنسټ، پاکستان خپل مالي ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷کلونه په داسې حال کې پای ته ورسول، چې په سوداګرۍ کې یې ۳۲/۴ میلیارد ډالره کسر درلود او روان کال به لا له وړاندې دغه کسر د جولای او ډیسمبر ترمنځ ۱۷/۹۷ میلیارده وي.

د یوه شتمن هیواد د وارداتو او صاداراتو کچه د کرهنې او صنعتي سکتور د وروسته پاتې کېدو له امله زیانمنېږي. د پاکستان په صنعتي برخه کې له شرعي حکمونو څخه سرغړونه کېږي یعنې له صنعتي سکتور څخه په لاس راغلې پیسې د دولتي خزانې(بیت المال) پرځای د یو شمېر خلکو جېبونو ته ځي. اسلام امر کوي، چې خلک باید د انرژۍ او کانونو په ګډون له عامه شتمنیو څخه پوره ګټه واخلي. خو په اوسني نظام کې یادې سرچینې خصوصي شوي او یوازې څو د ګوتو په شمار کسان ترې ګټه اخلي، په

داسې حال کې چې ټولنه ترې بې برخې ده. اسلام د ګډو ونډو شرکتونه حرام کړي دي. د ګډو ونډو شرکتونه دي چې د شخصي ملکيت پر بنسټ يې د پانګوالو پراخ صنعت ته اجازه ورکړې، لکه: پراخو ساختمانونو، درنو صنعتونو او مخابراتو ته. راتلونکې خلافت دولت به له پراخو او پرېمانه سرچينو څخه د صنعت د جوړولو لپاره کار واخلي او پر مټ به يې د خلکو چارې تنظيم کړي.

حزب التحرير د خلافت دستور په ۷۴ ماده کې ويلي: « د صنايعو وزارت د ټولو هغو چارو چې په صنعت پورې اړوند وي، مسول دی هغه که سپک صنعتي توکي وي او يا هم درانه صنعتي توکي وي، لکه: د ماشينونو توليد، ماشينونه، عراده جات، خام مواد او برېښنايي سامانونه. دولتي کمپنۍ يا هم شخصي کمپنۍ بايد له نظامي صنعت سره اړيکې ولري. ټولې کمپنۍ بايد د نظامي تګلارې پر بنسټ جوړې شي... دولت دنده لري چې پخپله وسلې توليد کړي او دا ورته حرامه ده چې پر نورو دولتونو تکيه وکړي، ځکه دغه چاره نورو دولتونو ته لاره هواروي چې ياد دولت، د هغه اراده، وسله او جګړه مهار کړي. دا هر څه تر هغه وخته نه شي ترلاسه کېدای، چې دولت د دروند صنعت خاوند نه شي او د لويو کمپنيو په جوړولو پيل ونه کړي، چې د درنو صنعتونو تر څنګ نظامي او ملکي دواړه توکي توليد کړي».

**حزب التحرير-ولايه پاکستان**

**سرچينه: khikafat.com**

**۱۴۳۹هق، د جمادي الثاني ۲۰ مه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۹ مه**

**ژباړن: صديق احمدزی**